بُست پوهنتون

اقتصاد پوهنځی ریاست

اداره او تجارت څانګه

# د اداره او تجارت څانګي  د تطبيقي پلان کلنی د څار راپور

کال: ۱۴۰۲

# د مطالبو فهرست

موضوع ... پاڼه

1.د پیل خبرې ... 1
2.د راپور غورچاڼ ... 1
3.جزیاتي راپور ... 2
4.نیمګړتیاوې، لاسته راوړنې او وړاندیزونه ... 6

## 1. د پیل خبري

اداره او تجارت ځانګي په ۱۴۰۱ کال کي د لومړي ځل لپاره خپل ستراتیژیک پلان چمتو کړ چي په کښې د لوړو زده کړو وزرات، بُست پوهنتون او اقتصاد پوهنځی د اکاډمیکو ارزښتونو او موخو ته په کتو د زیربنا، علمي څیړنو، ښه حکومتولۍ او ټولني سره مرستي مقاصدو ته په کتو سره 15 بیلابیل پروګرامونه د پنځو کلونو لپاره پلان سوي دي. نوموړی پلان د ستراتیژیک پلان د معیارونو مطابق د رښتیني مالوماتو او پلټونو پر بنسټ چمتو سوی چي د ۱۴۰۱ څخه تر ۱۴۰۵ پوري به د اهدافو د تحقق لپاره په لار واچول سي.

د ۱۴۰۲ کال په جریان کي د اداره او تجارت ځانګي او ستراتیژیک پلان کمیټي له لوري درې تنه هئتانو ته د نوموړي ستراتیژیک پلان پر بنسټ د ۱۴۰۲ کال تطبیقي پلان د کلنی تطبیق څخه د څار دنده ورکړل سوه چي نوموړي هئیت خپله دنده په بریالیتوب سره پای ته ورسوله او د ا داره او تجارت ځانګي د تطبیقي پلان کلنی د څار راپور د اقتصاد پوهنځی محترم ریاست ته په لاندي ډول وړاندي کیږي.

## 2. د راپورغورچاڼ

A. د ۱۴۰۲ کال په کلني تطبیقي پلان کي ټولټال (۱۰) بیلابیل پروګرامونه پلان سوي چي له دي جملي څخه ډیرو ته يې د عمل جامه ور اغوستل سوي ده او ځني يې د عملي کیدو په حال کي دي.

B. له (۱۰) پروګرامونو څخه (۶) پروګرامونه تر ډیره پوری د ۱۴۰۲ کال په جریان کي عملي سوي، او د نورو پروګرامونو د عملي کیدو لپاره هڅي رواني دي.

C. ځانګه د اهدافو د لاسته راوړلو حالت منځنی دی او هغه فعالیتونه چي تر اوسه ندي عملي سوي عمده علت يې کاري بوختیا/د کارونو لوډ دی.

D. دا چي د ځانګي بودیجه د پوهنځي او پوهنتون د مرکزي بودیجې یوه برخه ده او ځانګړې بودیجه نه لري، نو د پروګرامونو مصارف د پوهنځي او پوهنتون له خوا د نورو برخو سره په مجموعي ډول تادیه سوي او ځکه نو د هر پروګرام د بودیجې د مصرف دقیقه سلنه په لاس راوړل ګران وه.

E. د محصلینو د تخفیفونو او سکالرشیفونو په برخه کي د ۱۴۰۲ کال په جریان کي د پام وړ کار ندی سوی.

F. د ټولني سره د همکاری او په ټولنه کي د ځانګي ونډي اړوند فعالیتونه د ارزونکي هئیت او نظر غوښتونکو د نظریاتو پر اساس په تعلیق کي اچول سوي دي.

G. د محصلانو او فارغانو د مهارتونو او ظرفیت لوړوني په برخه کي د ۱۴۰۲ کال په جریان کي د پام وړ فعالیت ندی ترسره سوی.

## 3. جزیاتي راپور

| شماره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړی ربعي پرمخګک کچه (په سلنه ٪) | د دوهمي ربعي د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د دریمي ربعي د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د څلورمي ربعي د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت (مصرف سوې / اضافه سوې / کسرلري) | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د اداره او تجارت ځانګي اعتبار اخیستنه | د حمل څخه د قوس میاشتې تر پایه | هو | 30% | 50% | 50% | 50% | 45% | اضافه سوې | | د دریم پړاو ځان ارزونه ترسره سوي ده او د تضمین کیفیت د ۱۱ ګونو معیارونو مطابق اسنادونه چمتو سوي دي. | د دریم پړاو ځان ارزوني د راپور په هکله دقیق معلومات نه درلودل او وخت په وخت د راپور د فارمتونو تغیر/د دریم پړاو ځان ارزوني د پروسې ځنډېدل. | د لوړو زده کړو وزارت له لوري د یادي اکاډمیک بنسټ د دریم پړاو ځان ارزوني پروسه تکمیول. |
| 2 | د علمي څېړنو پراختیا | د قوس څخه د حوت تر پایه پوري | نه | پدي ربعه کي ندی پلان سوی | — | 28% | 18% | 23% | اضافه سوې | — | پنځه علمي مقالې په نړیوالو او کورنیو ژورنالونو کي خپرې سوي دی | د څېړنو سره د استادانو عدم علاقه مندي | د استادانو لپار د ځانګړو امتیازاتو په پام کي نیول |

د اداره او تجارت څانګې د تطبیقي پلان د کلني څارنې راپور

| شماره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړۍ ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د دوهمې ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د درېمې ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د څلورمې ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت (مصرف سوې / اضافه سوې / کسرلري) | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3 | د استادانو لنډمهاله ظرفیت لوړونه | د حمل څخه تر حوت تر پایه پورې | هو | د کارونو د حجم د زیاتوالي پر اساس نه توانیدل | 30% | 20% | 17% | 33% | اضافه سوې | — | د ۱۴۰۲ کال په جریان کې یو د تدریسي میتودونو په هکله د پوهاوي سمینار وراندي سوی. | په کافي اندازه د ټرېنرانو نه شتون. | د ټرېنرانو لپاره زمینه سازي کول او د ظرفیت لوړوني پروګرامونو ته د استادانو تشویقول. |
| 4 | د عواید مونډونکو پروګرامونو پراختیا | د جدی څخه تر دلوه تر پایه | نه | پدی ربعه کی ندی پلان سوی | پدی ربعه کی ندی پلان سوی | د کارونو د حجم د زیاتوالی پر اساس ندی ترسره سوی | پدی ربعه کی ندی پلان سوی | — | — | — | — | — | — |
| 5 | د تشکیلاتو پراختیا | د حمل څخه د حوت میاشتې تر پایه | هو | 50% | 50% | 100% | 100% | 75% | اضافه سوې | | د ۱۴۰۲ کال په جریان کې پنځه تنه پارټ ټایم دایمي او قراردادي استادانو تقرر صورت نیولی. | د اړتیا مطابق د پلان په رڼا کې تشکیل پراختیا مونډلي | د خصوصی پوهنتونونو د کادری غړیو د تقرر پروسه دي اسانه سی. تر څو اړتیا وړ کادري غړي مقرر سي. |

# د اداره او تجارت ځانګي د تطبیقي پلان د کلني څارني راپور

| شماره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړي ربعې پرمختګ کچه | د دوهمې ربعې پرمختګ کچه | د درېمې ربعې پرمختګ کچه | د څلورمې ربعې د پرمختګ کچه | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | | مصرف سوې / اضافه سوې / کسرلري | | | | |
| 6 | د محصلانو د جذب کمیت زیاتوالی | د حمل څخه د حوت میاشتې تر پایه | هو | | 100% | د لوړو زده کړو وزارت د اصولو مطابق دوه ځله جذب صورت نیسي | 100% | 100% | اضافه سوي | | د ۱۴۰۲ کال د بهاري او خزاني کانکور له لاري ۸۹ تنه محصلینو جذب سوي. | پدي برخه کي ډیره جدي ستونزه شتون نه لري. | د راتلونکي کانکورونو لپاره باید پدي برخه کي زیات اشتهارات تر سره سي. |
| 7 | د محصلانو او فارغانو ظرفیت لوړونه | د سرطان څخه تر عقرب تر پایه پورې | نه | پدی ربعه کې ندی پلان سوی | د کاري بوختیاوو له وجي ندی عملي سوی. | پدی ربعه کې ندی پلان سوی | پدی ربعه کې ندی پلان سوی | — | — | — | — | — | — |
| 8 | د اداري کارمندانو د ظرفیتونو لوړول | د سرطان څخه تر دلوه تر پایه پورې | هو | پدی ربعه کې ندی پلان سوی | د کاري بوختیاوو له وجي ندی پلان سوی. | 100% | 50% | 75% | اضافه سوي | — | د کلني څار او دوره یي ارزوني، تدریس اصلاحي ارزوني او یوولس ګونو معیارونو اړوند پروګرامونه دایر سوي دي. | پدي برخه کي ځانګړي ستونزه شتون نلري. | — |

د اداره او تجارت څانګي د تطبيقي پلان د کلني څارني راپور

| شماره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړي ربعي پرمخګک کچه | د دوهمي ربعي د پرمختګ کچه | د درمي ربعي د پرمختګ کچه | د څلورمي ربعي د پرمختګ کچه | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجي وضعیت | د بودیجي د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړني/ توضیحات | عمده ستونزي او چالشونه | وراندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | | مصرف سوي<br>اضافه سوي<br>کسرلري | | | | |
| 9 | سکالرشیفونه او تخفیفونه | د دلوه میاشت د پیل څخه تر پایه پوری | نه | پدي ربعه کي ندي پلان سوی | پدي ربعه کي ندی پلان سوی. | پدي ربعه کي ندی بلان سوی | د محصلینو د تخفیفونو او سکالرشیفونو په برخه کي کار ندی سوی. | — | — | — | — | — | — |
| 10 | د تولني په پراختیا کي ونډه | د حمل څخه تر حوت تر پایه پوری | نه | د څارونکي هئیت او نظر غوښتونکو د نظرونو پر اساس په تعلیق کي اچول سوی دی | د څارونکي هئیت او نظر غوښتونکو د نظرونو په وجه په تعلیق کي اچول سوی. | د څارونکي هئیت او نظر غوښتونکو د نظرونو په وجه په تعلیق کي اچول سوی | د څارونکي هئیت او نظر غوښتونکو د نظرونو په وجه په تعلیق کي اچول سوی | — | — | — | — | — | — |

| شماره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړۍ ربعې پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د دوهمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د درېمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د څلورمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت (مصرف سوې / اضافه سوې / کسرلري) | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز / تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مجموعي نتیجه | د کال په ټوله جریان کې | له 10 څخه 6 پروګرامونه پیل سوي | په دې ربع کې اوسط 40 سلنه فعالیت تر سره سوی | پدې ربعه کې اوسط 57.5 سلنه فعالیتونه ترسره سوي | پدې ربعه کې اوسط 43 سلنه فعالیتونه ترسره سوي | پدې ربعه کې اوسطه 55.8 سلنه فعالیتونه ترسره سوي دي. | اوسط 49سلنه فعالیتونه تر سره سوی دی | اضافه سوې | | ترسره سویو پروګرامونو ښه موثریت درلود او د هدف په لاسته راوړلو کې بې کارنده رول لوبولی دی | د ځینې فارمتونو سره د بلدتیا نه موجودیت، د څېړنو او ظرفیت لوړوني پروګرامونو سره د استادانو او اداري کارمندانو عدم علاقه مندي | هغه فعالیتونه چې د روانې څلورمې ربعې په جریان کې پاتې دي او ندي ترسره سوي په ترسره کولو کې د پوهنځې د ریاست همکارۍ ته ضرورت دی. |

## 4. نیمګړتیاوې، لاسته راوړنې او وړاندیزونه

### الف: نیمګړتیاوې

I. د درېم پړاو څان ارزونې د پروسې څنډنې کېدل.

II. د کاري لوړ/فشار پر اساس ډېری وختونه اداري او اکاډمیکي چاري څنډنې او د څنډ سره مخ کېږي.

III. د ترینر استادانو کمې او د علمي څېړنو او تحقیقاتو په برخه کې د استادانو او محصلانو د علاقې نشتون.

IV. د درېم پړاو څان ارزونې د راپور اړوند د فارمتونو سره نابلدتیا.

VII. د تشکيل د پراختيا په برخه کي د اړتيا وړ بشري نيرو نه موجوديت او د ظرفيت لوړوني د پروګرامونو په برخه کي د استادانو او کارمندانو عدم علاقه مندي.

**ب: لاسته راوړني**

I. د دريم پړاو ځان ارزوني راپور په برياليتوب سره د معيار مطابق ترتيب سوی او د پوهنتون د تضمين کيفيت آمريت ته په رسمي ډول ليږل سوی دی.
II. د ۱۱ ګونو معيارونو مطابق د دريم پړاو ځان ارزوه په برياليتوب سره ترسره سوي او آړين اسناد او شواهد چمتو سوي دي.
III. د اړتيا وړ د تشکيل په برخه کي زياتوالی راغلی او د ۱۴۰۲ کال په جريان کي پنځه تنه پارټ ټايم او قراردادي استادان ګمارل سوي دي.
IV. استادانو او کارمندانو ته بيلابيل د ظرفيت لوړوني پروګرامونه داير کړل سوي.
V. د پلان مطابق د محصلينو د جذب اړوند ۸۹ تنه محصلين د بهاري او خزاني کانکور له لاري جذب کړل سوي دي.

**ج: وړانديزونه**

I. د لوړو زده کړو وزارت له لوري د يادي اکاډميک بنسټ د دريم پړاو ځان ارزوني پروسه تکميول.
II. علمي څيړنو او تحقيقاتو په برخه کي د استادانو او محصلينو د تشويق په موخه د ځانګړو امتيازاتو په پام کي نيول.
III. د اداره او تجارت څانګي په کچه د استادانو/اداري کارمندانو د ظرفيت لوړوني لپاره امکانات او شرايط مساعدول.

د تطبيقي پلان څخه د څارني هئيت د غړو لاسليک:

| | | |
|---|---|---|
| د هئيت مشر نوم او لاسليک | د هئيت غړي نوم او لاسليک | د هئيت غړي نوم او لاسليک |

پورته د ۱۴۰۲ کال تطبيقي پلان کلنی د څارني راپور د اداره او تجارت څانګي په (      ) نمبر جلسه کي په      /      /      نيته تائيد سو.

د اداره او تجارت څانګي د مسؤل نوم: صفت الله آشنا      د اداره او تجارت څانګي د مسؤل لاسليک:      نيته:

پورته د ۱۴۰۲ کال تطبيقي پلان کلنی د څارني راپور د ستراتيژيک پلان فرعي کميټې په (      ) نمبر جلسه کي په      /      /      نيته تائيد سو.

د ستراتيژيک پلان فرعي کميټې د مسؤل نوم: ارسلان وطندار      د ستراتيژيک پلان فرعي کميټې د مسؤل لاسليک:      نيته:

پورته د ۱۴۰۲ کال تطبيقي پلان کلنی د څارني راپور د اقتصاد پوهنځی د علمي شورا په (      ) نمبر جلسه کي په      /      /      نيته تصويب سو.

د اداره او تجارت څانګي د تطبيقي پلان د کلني څارني راپور

د اقتصاد پوهنځی د علمي شورا د رئیس نوم : ارسلان وطندار       د اقتصاد پوهنځی د علمي شورا د رئيس لاسليک:       نیټه:       د اقتصاد پوهنځی مُهر: